# اَقوالِ صِدِّیقِ اکبر رضی اللہ عنہ

پښتو




پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامي سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ

اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص 40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدينه بقيع
ومغفرت

د رسالے نوم: اقوالِ صديقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ

اول ځل: .............................................

تعداد: ......................

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچي.

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته**

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# اَقوالِ صِدِّیق اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ

دا رِساله "اقوالِ صدیقِ اکبر" په اردو ژبه کښې لیکلې شوې ده.
مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمے، زیاتے اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

Email: translation@dawateislami.net

# فهرست


اَقوالِ صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ........................................ 1
د درود شريف فضيلت.............................................. 1
زه هُم د هغوئي نه يم.............................................. 2
عُرس شريف ........................................................ 4
د صديق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ارشادات ................................ 5
د نصيحت ډکې خبرې ............................................ 5
يو مسلمان هم سپک مهٔ ګڼئ.......................................... 6
ډيره دعا کوئ..................................................... 6
د هغوئي په شان مه کيږئ ........................................... 7
د الله د ويرې لوئي مثال ............................................ 8
د الله د مينې مزه................................................... 8
چرې مې په مړه ګيډه نه ده خوړلې..................................... 8
د لمانځه ترغيب..................................................... 8
جهنم نه د بچ کيدو عمل ............................................. 8
خُله کښې به ئې کاڼے کينښودلو...................................... 9
د ځان ښودلو نه به ئې ځان ساتلو ....................................... 9
سترګو نه به ئې اوښکې بهيدلې ........................................ 10
د صديق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عاجزي........................................ 10
د الله نه حيا کوئ .................................................. 10
د غمرازئ ښکلے انداز ............................................. 11
په هر مصيبت اجر ورکولے کيږي........................................ 11
د بدو نه د نه منع کولو وَبال .......................................... 11
سحر او مابښام د الله په ذِمَّهٔ کرم........................................ 12
سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته نصيحت........................................ 13

د اُمید او ویرې اوچت مثال ........................................ 13
د ګاؤنډي سره جګړا مه کوئ ........................................ 13
په زمکه د الله د رحمت سَورے ........................................ 14
د شرابو وبال ........................................ 14
د صدیق اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه نقل شوې دعاګانې ........................................ 15
د سحر او ماښام دعاګانې ........................................ 15
د جنازے نه پس دعا ........................................ 15
د **جَنّاتُ النَّعِیم** اوچتې درجے ........................................ 16
په څیزونو کښې د تمامِ نعمت سوال ........................................ 16
د ایمانِ کامل او یقینِ صادِق دعا ........................................ 16
د الله د رحمت سوال ........................................ 17
ماته حق ښکاره کړې ........................................ 17

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# اَقوالِ صِدِّیق اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ

دعائے عطار! یاربَّ الـمُصطفي! څوک چې دا رساله ”اقوالِ صدیق اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ“ اولولي یا ئې واوري، هغه ته او د هغه نسلونو ته د اصحابو او اهل بیتو رېښتوني غلامي نصیب کړې او د عشق رسول نه ختمیدونکے دولت ورکړې او بے حسابه ئې اوبخښې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

حضرتِ احمد بن ثابِت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: په نبيِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د درود شریف لوستلو مُتَعَلِّق چې ما څه اولیدل، په هغې کښې یو دا هُم دے چې ما په خوب کښې په ځنګل کښې یو منبر اولیدو، چې کله زه د هغې پوړو باندې اوختم نو ما زمکې طرف ته اوکتل نو څه ګورم چې د زمکې نه لرې په هوا کښې یو منبر دے، زه ډیرې پوړۍ بره اوختم، چې کله مې ښکته اوکتل نو صرف هغه پوړۍ مې لیدله په کومه چې زما ښپې وې باقي هیڅ نه ښکاریدل، ما د دُرُود و سلام په خاطر د **اللہ** پاک نه دُعا اوکړه: یا **اللہ** ما د سلامتیٔ په لاره روان کړې. په دې کښې مې د پُلِ صِراط په شان یو تور تار اولیدو، ما په زړه کښې سوچ اوکړو چې دا ضرور پُلِ صِراط دے او زه ئې کیر کړے یم، ما سره د **اللہ** پاک د فضل و کرم او په رَسُولِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود و سلام نه سِوا یو عمل هُم داسې نه وو چې په هغه سخت منزل باندې د تیریدلو د پاره زما په کار راغلے وے. په دې کښې مې د هاتِفِ غیبي نه (یعني یو غیبانه) آواز واوریدو چې که ته په دې منزِل واوړې نو هُغه طرف ته به د حضورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئي صحابه عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان سره د ملاقات نعمت حاصل کړې. دا مې چې واوریدل نو ډیر خوشحاله شوم او د **اللہ** پاک په بارګاه کښې مې د دُرُود و

سلام وسيله پيش كړه نو زه ناڅاپه يوے نُوراني وريځي اوچت كړم او د رسولِ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مباركو قدمونو كښې ئي واچولم، څه ګورم چې رسولِ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما دے او د هغوئي ښي طرف ته حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ، ګڅ طرف ته حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ، شا طرف ته حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ موجود دي او مخې ته ئي حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ولاړ دے. ما عرض اوكړو: حضور ! (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) تاسو زما ضامِن (يعني ذِمَّه وار) جوړ شئ، نو اُوئې فرمائيل: ”زه ستا ذِمَّه وار يم او ستا خاتِمه به په خير كيږي (يعني په ښه حالت كښې به وفات كيږې)-“ ما د دُعا درخواست اوكړو نو اِرشاد ئې اوفرمائيلو: په ما باندې كثرت سره دُرُودِ پاک وئيل [په ځان] لازِم كړه او د فضولياتو نه جُدا اوسه.

(سعادۃُالدارین ص125)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## زه هُم د هغوئي نه يم

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرتِ مَولٰى علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د سُوْرَةُ الْاَنْبِيَاء د آيت نمبر 101 تلاوت اوكړو:

اِنَّ الَّذِيۡنَ سَبَقَتۡ لَهُمۡ مِّنَّا الۡحُسۡنٰٓى ۙ اُولٰٓئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُوۡنَ ﴿۱۰۱﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: ”بيشكه هغه خلق د كومو د پاره چې زمونږ د ښيګړې وعده شوې ده، هغوئي د جهنَّم نه لرې ساتلي شوي دي.“ بيا ئې اِرشاد اُوفرمائيلو: زه د هغوئي نه يم، (حضراتِ) ابوبكر، عمر، عثمان او طلحه، زُبير، سَعْد، سعيد، عبدُ الرَّحمٰن بن عوف، اَبُو عُبيده بن جراح (هُم) د هغوئي نه دي. (تفسیرِ بیضاوِی، ج4ص110)

اِس پہ گواہ ھُوَالَّذِیۡ شیشہ حق نُما نبی  دیکھ لو جلوۂ نبی شیشۂ چار یار میں

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بیت! د مَولٰی علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په فرمان باندې زمونږه ځانونه قربان! هغوئي په خومره ښکلي انداز کښې د قرآني آیتونو نه د خُلَفائے راشدینو او د عشرۂ مبشره د صحابۂ کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان په باره کښې د خپلو ښائسته جذباتو او خیالاتو اظهار فرمائیلے دے. خومره بدقسمته دے هغه کس چې مَعَاذَالله د صحابۂ کرامو، خُلَفائے راشدین خصوصاً د شیخینِ کرِیمَین یعني حضرتِ ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا په بے عیبه شان کښې په خُله بده خبره راولي یا په خپلو ناپاکو دماغو کښې هغې [بدې خبرې] له ځائے ورکړي. داسې بدنصیبه له د فوراً نه هُم مخکښې د دې بد سوچ نه توبه کول او د ټولو صحابۂ کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان په باره کښې خپل زړه او دماغ پاک او صفا کول پکار دي ګنې چرې داسې اونشي چې هغه په دُنیا کښې د عبرت نښه جوړ شي او د آخرت خوفناک عذاب همیشه د پاره د هغه مُقَدّر جوړ شي. د حضرتِ ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا ذاتِ بابرکات خو د هغه عظمت و شان والا دي چې د ظاهري وصال شریف پورې د رَحمةٌ لِّلعٰلمین مکّی مَدَنی آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره یو ځائے اوسیدل، اوس هُم ورسره د مزار شریف خوا ته دفن دي او د قیامت په ورځ به په داسې شان د خپلو قبرونه نه بهر تشریف راوړي چې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره به یو ځائے وي. اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم مونږ غلامانِ صدیقِ اکبر به د مَولٰی علي مشکل کُشا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په خاطر په هغوئي پسې وروستو وروستو جَنَّت ته بے حسابه داخلیږو.

علی ہیں اس کے دشمن اور وہ دشمن علی کا ہے
جو دشمن عقل کا دشمن ہوا صدیق اکبر کا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# عُرس شریف

د مسلمانانو د وړومبي خلیفه، حضرت ابو بکر صدیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عرس مبارک په 22 جُمَادَی الْاُخْرٰی وي. (تاریخ الخلفاء،ص62) په هغوئي دِ د الله کروړونه رحمتونه وي. هغوئي د رسول کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو داسې لوئې صحابي وو چې په شان کښې ئې د قرآن کریم آیتونه نازل شوي دي، صاحب د قرآن، نبيِ آخرُالزَّمان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تر دې چې اللّٰهُ الرَّحْمٰن هم هغوئي ته د خپلې رضا زیرے ورکړے دے.

د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: په اعمال نامو کښې د نیکئو په لحاظ ابوبکر صدیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ټولو مخکښې دے، الله پاک دِ په هغوئي خپل رحمتونه نازل کړي چې مسلمانانو له ئې قرآن راجَمع کړلو.
(مرقاۃ المفاتیح،729/4،تحت الحدیث:2220)

د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د عرس شریف د مبارکو ورځو برکتونه اخستو د پاره د هغوئي د مختلفو اقوالو او دعاګانو ذکر وړاندې کیږي. د صدیق اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عاشقان دِ د خپل آقا، یار غار و یار مزار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د سیرت خپلولو کوشش اوکړي او د ثواب د پاره دِ دا رساله بنۀ عامه کړي. د صدیق اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مبارک سیرت لوستلو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنه دا دوه رسالے "عاشق اکبر" او "شان صدیق اکبر" اولولئ. دا رسالے د دعوت اسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net نه بے د څه معاوضے ډاؤن لوډ کولے هم شئ-

هر صحابيِ نبي ............................. جنتي جنتي
ټولي صحابیاني هم ............................ جنتي جنتي
حضرت صدیق هم ............................جنتي جنتي
او عمر فاروق هم............................جنتي جنتي
عثمان غني.................................. جنتي جنتي

فاطمه او علي.................................جنتي جنتي

دي حسن او حسين هم.......................جنتي جنتي

دے معاويه هم ................................جنتي جنتي

او ابو سفيان هم ...............................جنتي جنتي

والدين د نبي ...................................جنتي جنتي

ټولي بيبياني د نبي.............................. جنتي جنتي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د صديق اكبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ارشادات

❁ د صديق اكبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمان دے: په نبيِّ كريم رَءُوفٌ رَّحِيم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درود لوستل ګناهونه داسې زر ورانوي [ختموي] چې اوبه هم اور دومره زر نشي مړ كولے او په نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سلام ليږل د غلامانو آزادولو نه غوره دي .

(تاریخِ بغداد،7/172،رقم:3607)

❁ حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائيلي دي: **الله** پاک چې تاسو ته د نكاح كوم حكم كړے دے، تاسو په هغې عمل اوكړئ هغه چې د غني كولو كوم لوظ كړے دے پوره كوي به ئې. **الله** پاک فرمائيلي دي "كه چرې هغه فقير وي نو **الله** پاک به ئې په خپل فضل غني كړي." (تفسیر ابن ابی حاتم، النور، تحت الآیۃ:32، 8/ 2582)

## د نصيحت ډكي خبرې

❁ حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به خپله خطبه كښې فرمائيل: "چرته لاړل هغه خلق د چا مخونه چې ښائسته وو او ځليدل به، او هغوئي به په خپل ځلميتوب فخر كولو؟ چرته دي هغه بادشاهان چې ښارونه ئې جوړ كړل او د هغې نه ئې ګير چاپيره د ديوالونو جوړولو په ذريعه هغه محفوظ كړل؟ چرته دي هغوئي چې د جنګ په

میدان کښې به بریالي کیدل؟ وخت هغوئي کمزوري او خوار کړل او هغوئي د قبرونو تيارو ته لاړل، زر زر کوئ او نجات اولټوئ، نجات اولټوئ.“ (احیاء العلوم، 201/5)

❁ اے خلقو! د دروغو نه ځان اوساتئ، ځکه چې دروغ د ایمان خلاف دي.
(مسند امام احمد، 22/1، حدیث: 16)

❁ چا نه چې کیدے شي هغه دِ اوژاړي او چا له چې ژړا نه ورځي هغوئي دِ ژړغونے شکل جوړ کړي. (احیاء العلوم، 201/4)

❁ اے خلقو! د الله د ویرې چې تاسو کښې د چا نه کیدے شي هغه اوژاړئ ځکه چې هغه ورځ راتلونکې ده چې تاسو به ژړولے کیږئ . (تاریخ الخلفاء، ص81)

## یو مسلمان هم سپک مۀ ګڼئ

❁ یو مسلمان هیچرې هم سپک مۀ ګڼئ ځکه چې یو ادنٰی مسلمان هم د الله پاک په نزد لوئي مرتبے والا وي. (الزواجر، 149/1)

❁ زه تاسو ته وصیت کووم چې د لوړې په حالت کښې هم د الله نه ویریږئ او د هغه ھغسې حمد او ثنا وائیئ څنګه چې ئي حق دے او د خپلو ګناهونو بخښنه غواړئ بے شکه هغه ډیر زیات بخښونکے دے . (حلیة الاولیاء، 70/1، رقم: 81)

## ډیره دعا کوئ

❁ د الله پاک په بارګاه کښې د ویرې او امید سره ډیره دعا غواړئ ځکه چې الله پاک د حضرت زکریا عَلَیْہِ السَّلَام او د هغوئي د کور د کسانو په تعریف کښې فرمائيلي دي:

اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَ يَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّ رَهَبًا ؕ وَ كَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ﴿۹۰﴾ (پ17، الانبیاء: 90)

[مَفہوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بیشکه هغوئي به ښو کارونو کښې تادي کوله او مونږ نه به ئي غوښتله د امید او ویرې سره او مونږ ته به ئي ژړا فریاد کولو.

(حلیة الاولیاء، 69/1، رقم: 80)

❁ د **اللّٰہ** پاک بندګانو! پوهه شئ چې بے شکه **اللّٰہ** پاک د خپل حق په بدل کښې ستاسو ځانونه په ګانه ایښودي دي او په دې ئې ستاسو نه کلک لوظ اخستے دے او ستاسو نه ئې لږ او زر ختمیدونکے ژوند د تل پاتیکیدونکي ژوند په بدله کښې اخستے دے او تاسو سره د **اللّٰہ** پاک کتاب (یعني قرآن کریم) دے چې د هغې عجائبات نه ختمیدونکي دي او نه د دې نُور خوک مړ کولے شي. د دې د آیتونو تصدیق اوکړئ او د دې نه نصیحت واخلئ، او د تِیارے د ورځې د پاره د دې نه رڼا واخلئ. بے شکه **اللّٰہ** پاک تاسو د عبادت د پاره پیدا کړي يئ او په تاسو ئې **کِرَامًاکَاتِبِیْن** (یعني اعمال لیکونکي فرښتے) مقرر کړې دي او تاسو چې څه هم کوئ هغوئي ترینه خبر دي . (حلیۃالاولیاء،69/1،رقم:80)

## د هغوئي په شان مه کیږئ

❁ د **اللّٰہ** پاک بندګانو! خبر شئ تاسو د یو ټاکلي شوي وخت (یعني مرګ راتلو) پورې سحر او ماښام کوئ د کوم علم چې تاسو له نه دے درکړے شوے. که تاسو خپل ژوند د ربُّ الانام د رضا په کارونو کښې تیرولے شئ نو هم داسې کوئ خو دا د **اللّٰہ** پاک د توفیق نه بغیر ممکن نه دي ځکه د خپل ژوند د مهلت نه ګټه ترلاسه کړئ او یو بل نه په عملونو کښې مخکښې شئ، مخکښې د دې نه چې مرګ راشي او تاسو خپلو بدو عملونو ته اوګرځوي. ځکه چې ډیرو قومونو خپل عمرونه د غیرو د پاره تیر کړل او ځانونه ئې هیر کړل. ځکه زه تاسو منع کووم چې تاسو د هغوئي په شان مه کیږئ. زر کوئ زر! خلاصے حاصل کړئ خلاصے! ځکه چې مرګ تاسو پسې دے او هغه ډیر زر راتلونکے دے. (مصنف ابن ابی شیبۃ،144/8،حدیث:1)

❁ مونږه عزت په تقویٰ کښې، مالداري په یقین کښې او بزرګي په عاجزئ کښې اوموندله . (احیاء العلوم،421/3)

## د الله د ويري لوئي مثال

❁ نقل شوي دي چې حضرت سیِّدُنا ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ یوه ورځ د مرغۍ په لیدلو اوفرمائیل: اے مرغۍ! کاش چې زه ستا پشان وے او زه انسان نه وے پیدا شوے. (شعب الایمان، 485/1، حدیث:788، احیاء العلوم، 226/4)

کاش! کہ میں دنیا میں پیدا نہ ہوا ہوتا قبر و حشر کا ہر غم ختم ہو گیا ہوتا

## د الله د میني مزه

❁ څوک چې خالص د الله د میني مزه اوڅکي نو دا هغه د دنیا د غوښتلو نه لرې کړي او هغه ته د ټولو انسانانو نه ویره ورکوي. (تفسیرروح البیان، 388/8، تحت الآیة:67)

## چرې مې په مره کیده نه ده خوړلې

❁ زه چې کله نه مسلمان شوے یم چرې مې په مره کیده نه ده خوړلې د پاره د دې چې د عبادت خوږوالے رانصیب شي او کله نه چې مې اسلام قبول کړے دے د الله د ملاقات د شوق په وجه مې چرې هم په مره کیده اوبه نه دي څښلې.

(مختصر منهاج العابدین، ص 87)

## د لـمانځه ترغیب

❁ صدیق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به د نمانځه په وخت فرمائیل: خلقو پاڅئ! د خپل رب کوم اور چې تاسو لـمبه کړے دے هغه (د نمانځه په ذریعه) مړ کړئ. (مکاشفة القلوب، ص 68)

## جهنم نه د بچ کیدو عمل

❁ اَمیرُالمُؤمِنِین حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به فرمائیل: "د چا چې دا خوښه وي چې د قیامت په ورځ **الله** پاک هغه د جهنم د اور نه بچ کړي نو هغه له پکار

دي چې د مومن د پاره مهربانه او نرم زړه والا شي". (تنبیه المغترین، ص76)

## خُله کښې به ئې کاڼے کېښودلو

❁ اَمیرُالمُؤمِنِین حضرت سیدنا صدیق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به خپله خُله مبارکه کښې کاڼے ایښودلو او تر ډیرو کلونو پورې هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ داسې کول تر دې چې د لږو خبرو عادت ئې جوړ شو، هغوئي به صرف د خوراک او نمانځه په وخت کاڼے د خُلې نه لرې کولو او دا صرف د دې د پاره وو چې چرته فضول خبره رانه اونشي. کله چې د هغوئي د وفات وخت نزدې شو نو خپله ژبه ئې راویستله او اوئې فرمائیل: دا هغه ده کومې چې به زه د هلاکت ځائے ته بوتلم. (هغوئي به د عاجزئ په توګه داسې فرمائیل)." (تنبیه المغترین، ص190)

❁ حضرت صدیق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به (د عاجزئ په توګه) فرمائیل: کاش چې زه (د فضول خبرې کولو نه) چاړا وے. (مرآۃ المناجیح، 18/8)

❁ اے خلقو! د اللّٰه پاک نه معافي او بخښنه غواړئ ځکه چې د مومن د پاره د اسلام نه پس د مغفرت او بخښنې نه زیات هیڅ څیز غوره نشته. (تنبیه المغترین، ص45)

❁ چا د صدیق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه پوښتنه اوکړه: تاسو څنګه سحر کړو؟ اوئې فرمائیل: د ربِّ جلیل په بارګاه کښې د حقیر [یعنې سپک] بنده په شان کوم چې د هغه د حکمونو پابند دے. (تنبیه المغترین، ص153)

## د ځان ښودلو نه به ئې ځان ساتلو

اَمیرُالمُؤمِنِین حضرت سیدنا ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به د تکبر او ځان خوښولو نه ډیر زیات ویریدلو. کله چې به خلقو د هغوئي تعریف کولو نو هغوئي به داسې دعا کوله: اے اللّٰه پاکه! څه چې دوئي وائي ما د هغې نه ډیر ښهٔ کړې او د څه چې دوئي ته پته نشته زما هغه عمل معاف کړې. (تنبیه المغترین، ص241)

## ستړګو نه به ئې اوښکې بهيدلې

❁ کله چې به هغوئې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د قرآن پاک تلاوت کولو نو هغوئې به په خپلو اوښکو اختيار نه لرلو (يعني ډير زيات به ئې ژړل). (شعب الایمان، 493/1، رقم: 806)

❁ د حروفِ مُقَطَّعات په حقله ئې فرمائيلي دي: د هر کتاب رازونه وي او د قرآن مجيد رازونه د سورتونو په شروع کښې راغلي حروف دي.
(تفسیر روح المعانی،پ1، البقرة، تحت الآیة:1، 136/1)

❁ اے خلقو! د نيکۍ حکم کوئ، د بدۍ نه منع کوئ، ستاسو ژوند به په خير تيريږي. (تفسیرِ کبیر 316/3)

## د صديق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عاجزي

❁ يو کس اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته بد رد اوئيل نو هغوئې (خپل نفس ته) اوفرمائيل: الله پاک چې ستا کوم عيبونه پټ ساتلي دي هغه د دې نه زيات دي. ګويا هغوئې هغه وخت خپل نفس ته داسې کتل چې هغه د الله پاک د معرفت په باره کښې او څنګه چې هغه نه د ويرې حق دے په هغې کښې کوتاهي کوي ځکه هغوئې د هغه [کس] په خبره غصه نه شولو ځکه چې هغوئې په خپل نفس کښې کمے ګڼړلو. دا د هغوئې عظمت او شان وو. (احیاء العلوم، 212/1)

## د الله نه حيا کوئ

❁ اے خلقو! د الله پاک نه حيا کوئ، د هغه ذات په قسم د چا په قبضهٔ قدرت کښې چې زما ژوند دے! کله چې زه شړې ته د قضائے حاجت د پاره ځم نو د سَورې لاندې کيږم او د الله پاک نه د حيا په وجه خپل سر پټووم.
(مصنف ابن ابی شیبه، 44/2، حدیث: 1133)

❁ اے خلقو! د الله نه شرم کوئ، په الله پاک مې دِ قسم وي، کله چې زه بيت الخلا ته لاړ شم نو د الله پاک نه د حيا په وجه خپله شا ديوال سره اولګووم. (تاریخ الخلفاء، ص 75)

## د غمرازئ ښکلے انداز

❁ کله چې به صديق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چا ته تَعزِيَّت [يعني د مړي غمرازي] کوله نو فرمائيل به ئې: صبر کولو کښې هيڅ مصيبت نشته او د ژړا غوغا هيڅ فائده نشته. واورئ! مرګ د خپل مابعد [يعني وروسته راتلونکو مرحلو] نه آسان او مخکښې [تيرو شوو سختو] نه زيات سخت دے. که ته د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ظاهري وفات ياد کړې نو تا ته به خپل مصيبت کم ښکاره شي او **الله** پاک به درله ډير اجر درکړي.
(ابن عساکر،336/30)

❁ زما دروازه بنده کړئ چې زه تر سحره پورې عبادت کښې مشغول اوسم.
(تاريخ الخلفاء،ص75)

❁ نيکان خلق به د دنيا نه يو يو اوچت کړے شي صرف هغه خلق به پاتې شي کوم چې به دومره بيکاره وي لکه د وربشو او کجورو د پوستکي او هغوئي سره به د **الله** پاک هيڅ تعلق نه وي. (تاريخ الخلفاء،ص81)

## په هر مصيبت اجر ورکولے کيږي

❁ بيشکه مسلمانانو ته په هر څيز اجر ورکولے کيږي تر دې پورې چې په وړوکي شان مصيبت او د تسمے په شوکيدو هم. او په هغه مال هم کوم چې د هغه په لستوڼي کښې پروت وي خو هغه مسلمان په هغې پسې ګرځي او هغه ته د هغه مال د ورکيدو انديښنه وي او بيا د سوچ کولو نه وروستو ئې پيدا کړي.
(الزهد للامام احمد،ص139،رقم:565)

## د بدو نه د نه منع کولو وَبال

❁ کله چې يو قوم د خپل ځان نه زيات عزت لرونکو خلقو کښې نافرماني کوي او هغه (عزت لرونکي خلق) هغوئي د هغه نافرمانئ نه، نه منع کوئ نو **الله** پاک به په هغوئي داسې مصيبت نازل کړي کوم چې به د هغوئي نه نه لرې کيږي .
(شعب الايمان،82/6،حديث:7551)

❁ اے خلقو! تاسو دا آيت:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا عَلَيۡكُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ‌ۚ لَا يَضُرُّكُمۡ مَّنۡ ضَلَّ اِذَا اهۡتَدَيۡتُمۡ‌ؕ

(پ7، المآئدہ:105)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ايمان والؤ! تاسو د ځان غم کوئ، تاسو ته به هيڅ نقصان درنکړي څوک چې گُمراه شو چې کله تاسو په [سمه] لار يئ.

لولئ او دي نه غلط مطلب اخلئ. ما د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا ارشاد اوريدلے دے کله چې خلق ظالم اووِيني او د هغه لاس نه اودروي نو نزدے ده چې الله په هغوئ عذاب نازل کړي. (مسند امام احمد،1/15، حديث:1)

❁ کله چې د قيامت ورځ شي نو يو اعلان کوونکے به اعلان کوي چې چرته دي خلقو لره معاف کوونکي؟ الله پاک به هغوئ ته د معاف کولو اجر ورکوي.

(جامع الاحاديث،14/182، حديث:219)

## سحر او ماښام د الله په ذِمَّهٔ کرم

❁ حضرت سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: چې زه د حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې اوکړو: حضورا ماته څه وصيت اوکړئ. هغوئ رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ اوفرمائيل: اے سَلمانه! د الله نه اويريږه او خبر شه چې ډير زر به تاسو ته فتوحات حاصليږي، البته ماته دا معلومه نه ده چې د هغې نه به تا ته کومه برخه ميلاويږي هغه به ته په خپل کار راولې او که ضائع کوې به ئې؟ خو يوه خبره تل ياده ساته، چا چې پينځه وخته نمونځونه ادا کړل هغه سحر او ماښام د الله په ذِمَّهٔ کرم کښې وي او څوک چې د الله په ذِمَّهٔ کرم کښې وي په هغوئ کښې څوک هم مهٔ قتل کوه، هسې نه چې ته د الله پاک ذِمَّهٔ کرم اوشُوکوې او بيا الله پاک تا جهنم ته پرمخ اوغورزوي. (تاريخ الخلفاء، ص81)

## سلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته نصيحت

❁ حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته وصيت اوفرمائيلو: يقينا **الله** پاک ستا د پاره دنيا خوره کړې ده نو ته د دې نه د خپل ضرورت مطابق برخه واخله. (دنیا سے بے رغبتی اور امیدوں کی کمی، ص72)

## د اُميد او ويرې اوچت مثال

❁ که چرې د آسمان نه څوک په اوچت آواز غږ اوکړي چې جنت ته به صرف يو کس ځي نو زه اُمِّيد لرم چې هغه به زه يم او که چرې د آسمان نه دا غږ اوشي چې دوزخ ته به صرف يو کس ځي نو زه ويرېږم چې هغه کس به هم زه يم.
(اللمع فی التصوف، ص168)

❁ ډير خوش قسمته دے هغه کس څوک چې د اسلام په شروع کښې (يعني د فتنو راپورته کيدو نه مخکښې) د دنيا نه لاړو. (مسند الفردوس، 46/2، حدیث:3747)

## د ګاؤنډي سره جګړا مه کوئ

❁ يو ځل حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خپل ځوئ حضرت عبد الرَّحمان رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په خوا تيريدلو نو هغه خپل ګاؤنډي رټلو. هغوئي هغه ته اوفرمائيل: خپل ګاؤنډي سره جګړه مه کوه ځکه چې دا خو به هم دلته اوسيږي خو چې څوک ستاسو جګړه اووينې هغوئي به د دې ځائے نه لاړ شي (او مختلفې خبرې به جوړوي)-(تاریخ الخلفاء، ص79)

❁ يو ښکار هُم تر هغه وخته پورې نه ښکار کيږي او نه يوه ونه تر هغه وخته پورې وهلے کيږي تر څو چې د **الله** د ذکر نه غافله نشي.
(مصنف ابن ابی شیبۃ، 137/8، حدیث:35582، الزہد للامام احمد، ص139، حدیث:567)

❁ د يو وورور دعا د بل وورور په حق کښې کومه چې د **الله** پاک د رضا د پاره اوکړے شي قبليږي. (الزہد للامام احمد، ص140، رقم:574)

❁ حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به دا شعر د نصیحت په توګه وئیلو:

لَاتَزَالُ تَنْعِي حَبِيْباً حَتّٰى تَكُوْنَهٗ وَقَدْ يَرْجُو الْفَتٰى الرِّجَا يَمُوْتُ دُوْنَهٗ

یعني اے غافله څلمیه! ته مسلسل د خپلو دوستانو د مرګ خبر خو ورکوې آیا تا چرې دا سوچ کړے دے چې یوه ورځ به ته هم د هغوئي په شان بے ساه شې څکه چې بعضې وخت یو څلمے د امیدونو پوره کیدو نه مخکښې د آخرت په سفر روان شي. (الزہد للامام احمد، ص142، رقم:591، تاریخ الخلفاء، ص82)

❁ په هغه ذات مې دِ قسم وي د چا په قبضهٔ قدرت کښې چې زما ژوند دے! که چرې تاسو تقویٰ او پرهیزګارې اختیار کړئ نو لرې نه ده چې تاسو ته به د آسانو دروازے پرانستے شي تر دې چې تاسو به په ډوډئ او غوړو ماړه شئ .

(المجالسة وجواہر العلم، 409/1، رقم:1057)

## په زمکه د الله د رحمت سَورے

❁ یو ځل حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په منبر باندې خطبه کښې اوفرمائیل چې ما د ټولو نبیانو د سردار **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا ارشاد اوریدلے دے: "عدل او انصاف او عاجزي کوونکے بادشاه په زمکه د **الله** پاک (د رحمت) سَورے او نیزه وي پس چا چې بادشاه ته د ځان او د **الله** پاک د بندګانو په باره کښې نصیحت اوکړو (یعني فائده منده خبره ئې اوکړه) **الله** پاک به د هغه حشر د خپل رحمت په سَوري کښې اوفرمائي په کومه ورځ به چې د هغه د رحمت د سَوري نه علاوه بل سَورے نه وي او چا چې بادشاه له د خپل ځان او د **الله** پاک د بندګانو په حقله دهوکه ورکړه **الله** پاک به هغه د قیامت په ورځ رسوا کړي." (فضیلة العادلین لابی نعیم اصبهانی، ص124، حدیث:18)

## د شرابو وبال

❁ چا د صدیق اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه پوښتنه اوکړه: آیا تاسو د جاهلیت په دَور کښې شراب څښلي وو؟ نو هغوئي اوفرمائیل: د الله پناه! ما به تل د خپل عزت او د انسانیت

حفاظت کولو، او د شرابی عزت او انسانیت دواړه ضائع شي. (تاریخ ابن عساکر.333/30)

## د صدیق اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه نقل شوي دعاګاني

## د سحر او ماښام دعاګاني

❁ د ټولو مسلمانانو خوږه مور حضرت بي بي عائشه صدیقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا فرمائي: زما پلار محترم حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به سحر او ماښام یوه دعا کوله ( هغه دعا دا ده). ''اَللّٰھُمَّ اجْعَلْ خَیْرَ عُمْرِیْ آخِرَہٗ وَخَیْرَ عَمَلِیْ خَوَاتِمَہٗ وَخَیْرَ اَیَّامِیْ یَوْمَ اَلْقَاكَ'' یعني اے الله پاکه! زما آخري عمر ښهٔ کړې، زما د عملونو خاتمه په خیر اوکړې او په ورځو کښې دِ زما هغه ورځ د ټولو ورځو نه غوره وي په کومه ورځ چې ستا دیدار رانصیب شي.

چا عرض اوکړو: ''اے ابوبکرا! تاسو ته د دې دعا غوښتلو څه ضرورت دے؟ تاسو خو د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابي یئ، ثَانِیَ اثْنَیْنِ فِی الْغَارِ یئ.'' اوئې فرمائیل: ''بعضې وخت داسې اوشي چې څوک ټول عمر د جنتیانو پشان عملونه کوي خو خاتمه ئې د جهنمیانو په عمل اوشي، او داسې هم کیږي چې ټول عمر د جهنمیانو عملونه کوي خو د هغه خاتمه د جنتیانو په عمل اوشي.'' (یعني تل د الله د پټ تدبیر نه ویریږئ). (کنزالعمال.176/1، حدیث:1537)

## د جنازے نه پس دعا

❁ د مسلمانانو وړومبي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې به کله د چا جنازه اوکړه نو داسې دعا به ئې کوله: ''اَللّٰھُمَّ عَبْدُكَ اَسْلَمَهُ الْاَهْلُ وَالْمَالُ وَالْعَشِیْرَةُ وَالذَّنْبُ عَظِیْمٌ وَّاَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ'' یعني اے الله پاکه! ستا دا بنده د ده د کور کسانو، [د ده] مال او دولت او نورو خپلوانو بے یارو مددګار پریښودے دے د ده ګناهونه ډیر زیات دي خو ته غفور او رحیم ئې (د ده ټول ګناهونه معاف کړې)-''

(مصنف ابن ابي شيبة، 242/7، حديث:11472)

## د جَنّاتُ النَّعِیم اوچتې درجې

❁ د حضرت حسن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې حضرت ابوبکـر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به خپله دعا کښې دا عرض کولو: "اَللّٰھُمَّ اِنِّیْ اَسْاَلُكَ الَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ فِيْ عَاقِبَةِ اَمْرِيْ اَللّٰھُمَّ اجْعَلْ مَا تُعْطِيْنِيْ الْخَيْرَ رِضْوَانَكَ وَالدَّرَجَاتِ الْعُلٰى فِيْ جَنَّاتِ النَّعِيْم" یعني اے **اللّٰه** پاکه! زه ستا نه د هُم هغه خیز سوال کووم کوم چې زما د آخرت د پاره ښهٔ وي. اے **اللّٰه** پاکه! ته چې ما له کوم خیر هُم راکړې، د هغې انجام د خپلې رضا او د جَنّاتُ النَّعِیم اوچتې درجے اوکرځوې." (الزہدللامام احمد،ص141،رقم:584)

## په خیزونو کښې د تمامِ نعمت سوال

❁ حضرت عبد العزیز بن ابو سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې حضرت ابوبکـر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به داسې دعا کوله: "اَسْاَلُكَ تَمَامَ النِّعْمَةِ فِي الْاَشْيَاءِ كُلِّهَا، وَالشُّكْرَ لَكَ عَلَيْهَا حَتّٰى تَرْضٰى وَبَعْدَ الرِّضَا وَالْخِيَرَةَ فِيْ جَمِيْعِ مَا يَكُوْنُ فِيْهِ الْخِيَرَةُ بِجَمِيْعِ مَيْسُوْرِ الْاُمُوْرِ كُلِّهَا لَا بِمَعْسُوْرِهَا يَا كَرِيْمُ" یعني اے **اللّٰه** پاکه! زه ستا نه په ټولو څیزونو کښې د تمامِ نعمت (یعني جنت ته د تللو او جهنم نه د آزادئ) سوال کووم او په دې ماله د شکر اد کولو توفیق راکړې تر دې چې ته زما نه رضا شې، او اے کریم ربه! ماله چې خومره د خیر کارونه دي د هغو ټولو خیر بے د څه سختۍ په آسانۍ راکړې."
(موسوعۃامام ابن ابی الدنیا،1/502)

## د ایمانِ کامل او یقینِ صادق دعا

❁ د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په دعا کښې به دا کلمات هم شامل وو: "اَللّٰھُمَّ هَبْ لِيْ اِيْمَانًا وَّيَقِيْنًا وَّمُعَافَاةً وَّنِيَّةً" یعني اے **اللّٰه** پاکه! ماته پوره ایمان، صادق یقین، د ټولو آفتونو او مصیبتونو نه حفاظت او ریښتونے نیت رانصیب کړې." (موسوعۃامام ابن ابی الدنیا،1/502)

## د الله د رحمت سوال

❁ هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به داسې دعا هم كوله: ''اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْاَلُكَ بِرَحْمَتِكَ الَّتِيْ لَا تَنَالُ مِنْكَ اِلَّا بِالْخُرُوْجِ يعني اے الله پاكه! زه ستا نه د هغه رحمت سوال كووم، كوم چې ته خپله لار كښې وتونكو ته عطا كوې.'' (موسوعة امام ابن ابی الدنيا، 21/1)

## ماته حق ښكاره كړې

❁ د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په دعاګانو كښې دا دعا هم شامله وه: ''اَللّٰهُمَّ اَرِنِي الْحَقَّ حَقًّا وَّارْزُقْنِي اتِّبَاعَهُ وَاَرِنِي الْبَاطِلَ بَاطِلًا وَّارْزُقْنِي اجْتِنَابَهُ وَلَا تَجْعَلْهُ مُتَشَابِهًا عَلَيَّ فَاَتَّبِعَ الْهَوٰى، يعني اے الله! ماته حق ښكاره كړې او ماته ئې د منلو توفيق راكړې او باطل راته هم ښكاره كړې او ماته ترينه د بچ كيدو توفيق راكړې او دا زما د پاره شكمن مهٔ جوړوې چې زه په خواهشونو پسې روان شم.'' (احياء العلوم، 134/5)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِيّتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربِيَّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com